دوکتـور صلاح الـدین سـعیـدی ۱۹/۰۶/۲۰۰۹

# د ښاغلی حکمتیار له تعصب نه ډکې څرګندونې په ځواب کې!

درنو لوستونکو!

دټول افغان په درنی ویب پاڼی کې می د محترم ننګیال ستوری لیکنه د پورتنی عنوان لاندی چه د غبرګولی په ۲۸ نیټی (۱۷/۶/۲۰۰۹) کې خپور شوی وه ولوسته. ضرور می وګڼله چه لاندی څو ټکی ستاسی حضور ته په ډیر احترام او ادب وړاندی کړم:

ما څه موده د مخه په خپلو لیکنو ، مقالاو او یو سلسله تحلیلی مضامینو کې د مخالفینو سره د افغانستان د اوسنی حاکمیت او چاروا کو دخبرو اتر او جوړی روغی په هکله خپله پوهه او نظریات درنو لوستونکو ته وړاندی کړی وه. په دی نظریاتو کې د جوړی روغی مفاهیم او زما پوهه ددی مفاهیمو څخه - بیانه شوی وه. ما د نور تاکیدات سره ویلی وه او وایم چه:
ددی امکانات ډیر لږ دی چه تمام دی په اصطلاح جوړ راشی او په تمامو مسایلو کی دی توافق ته سره ورسیږی.
داسی مطالبه نادرسته او عملی نه ده.
داعمده او مرکزی خبر نه ده چه د سیاسی مخالف او اپوزیسیون خبره را جوته او درسته ښکاره او ورسره باید تفاهم او مذاکره وشی.
دا عمده او مرکزی خبر نه ده چه ګمان وشی او وویل شی چه سیاسی مخالف او اپوزیسیون مطالبات او نسخی برحق دی او د هغه سره دی تفاهم او مذاکره وشی.
دا مرکزی او عمده خبر نه ده چه مخالف او اپوزیسیون به ملامت نه وی.

مهمه او مرکزی خبر خو داده چه مخالف او اپوزیسیون یو عینی واقعیت دی او زمونږ د ذهن نه په غیر خارجی موجودیت لری. د وطن په وارنولو او انسان وژلو کې خپل تأثیر او برخه لری.
څنګه وشی چه دا زمونږ د قبول او عدم قبول نه بی تأثیر موجود باندی داسی اعتراف وکړو او لاری چاری وسنجوی چه د بشریت د لاسته راغلو ښو تجاربو څخه تمام جوانب مثبته او عملی ګټه واخلو. زه په دی باور یم چه بی شرفته انسان نه شته. هر انسان شرف او هغه داخلی جوهر او ملکه لری. دا داخلی جوهر او ملکه په ممارست او غمخواری جلایش او براقیت مومی او په عدم ممارست مکدره او د تاریکی خواته ځی. ددی اصل په قبول مونږ په دی باور یو چه تمام جوانبو سره خبرکول په کار دی او لاری لټول چه څنګه وکړای شو یو ډول د خیر تفاهم ته سره ورسیږی. تفاهم او نیک تفاهم، تشدد او متناسب تشدد هر یک ځان ته ځای او مقام لری. څنګه و کړای شو چه د بی ځایه تشدد مخه ونیسو او خپل رسالت اداء کړو.
که چیری په سیاسی ستیج کې دیو وطن ریښتینی ځواکونه برخه و نه لری په هغه وطن کی با ثباته سوله نه شی راتلای. دا یو قبول شوی اصل دی.
که په وطن کی سوله غواړی ددی اصل پیروی وکړی.
ما تأکید کړی او کوم چه :
ددی وطن هر با احساسه بچی په دی زوریږی چه په وطن کی یی څه تیریږی او تیر شوی.
ددی وطن هر با احساسه بچی په دی زوریږی چه د پردو په اشارو مو خپل وطن په آګاهانه او غیر آګاهانه توګه خراب کړ.
ددی وطن هر با احساسه بچی دا غواړی چه په وطن کی سوله ، آرامی ، نیک تفاهم او ملی روغه جوړه راشی.
ددی وطن هر با احساسه بچی غواړی چه په دی وطن کی افغانان خپله خپل تقدیر په لاس کی ونیسی.
.................
په دی سلسله کې زه د یو تعریف شوی جوړی روغی، نیک تفاهم ، تعقل او تدبر سخت ملاتړ کوم.
له بلی خوا د سیاسی ګوندونو او سازمانونو منځ ته راتګ او فعالیت د افغانستان د مسایلو د حل لپاره ددی سازمانونو نسخی او تګلاری مرکزی اهداف وینم. دا ګوندونه او سازمانونه خپلو اهدافو د تحقق لپاره د سیاسی قدرت د لاس ته راوړلو لپاره هلی ځلی کوی.
په دی پوهیږو او باور لرو چه د افغانستان د مسایلو د حل نسخی او د حل لیاری نه سل دی او نه هم ۱۵۰. د حل لیاری او نسخی د څلور پنځو نه زیاتی نشی کیدای. له همدی کبله په افغانستان کې دومره زیاد سیاسی احزاب ،


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

سازمانونه او سیاسی حرکتونه طبیعی او نورماله خبر نه . په دی باور یو چه د زمان او وخت په تیریدو به ددی احزابو او سیاسی ساازمانو او حرکتونه تعداد کـمیـږی.

دځو میاشتو راهیسی اورو چه د افغانستان حاکم دولت د مخالفینو سره خبری اتری کوی او په دولت او حاکمیت کی شریکوی. اورو چه دغه او هغه وزارتونه او یا د دغو او هغو اداری واحدو او ولایتو – چاروکی حزب اسلامی او یا هم طالبانو ته ورسپارل کیږی او جوړه روغه راځی.
زه چه داخبری اورم نو ما ته تعجب راشی چه ګویا حزب اسلامی او د طالبانو جنبش په افغانستان کې د غنايمو او وزارتونه د چوکیو لپاره د ... په شان مبارزه کوله او کوم سیاسی اهداف او سیاسی کړنلاری او برنامې یی نه لرلی.
هغه د چا په شان د ریاست جمهوری معاونیت او پنځو وزارتونو لپاره مبارزه او جهاد وه!؟
یو څه نور بـیا اعتراض کوی او وایی: (اگر حاکمیت امروزچنین نمی کرد و چنان نمی کرد حالا مجبور به دادن قدرت و شریک ساختن حزب اسلامی و طالبان د قدرت سیاسی نمی بود و...)

زما پوهه د مفاهمی، مذاکری او مصالحی مفهوم په پورتنی ډول نه ده او تعبـیــرخطاء دی. زما په پوهه د ورور ی او جوړی روغی مانا دا نه ده چه ظالم به مظلوم سره جوړیږی او قاتل به د مقتول د ورثی سره جوړ راځی سوله به راځی او ورور ی به کوی. په سیاسی ډګر کی داسی پوهه د مصالحی او مفاهمی خو له سره غلطه ده. دا سیاسی تجارت او سیاسی نا جایــزه معاملی هر څوک یی نشی کولای. دا خبره نشم منلای او د منلو وړ هم نه ده چه ګواکی یو وزارت او یا یو ولایت کي دی د حزب اسلامی پالیسی عملی، بل وزارت کي دی د طالب د حرکت سیاسیت عملی شی او په بل وزارت کي به د اوسنی حاکم منجمنت سیاست عملی کیږی. دا عملی خبر نه ده. جوړه روغه او مصالحه د اصولو نه د تیرویدو په عنوان او مفهوم نه ده.
سیاسی جوړه روغه د سیاسی لوبی په اصولو او قواعدو توافق دی. په دی توافق دی چه څنګله په وطن کي داسی زمینی برابری شی چه د افغانستان خلک تصمیم ونیسی چه کومه لار انتخابوی. آیا د حزب اسلامی لار د افغانستان د خلکو په ګټه وینی او یا هم د طالبانو او یا هم د... په دی برخه کې د افغانستان خلک خپل انتخاب لری. اکثریت قاطع یی الحمد لله مسلمان دی او سیاسی پوهه یی وچته ده. له بلی خوا د تولنی نخبه ګان، روشنفکران، علماء او روحانیون او بلاخره هر خیرخواه افغانستان او انسان حق لری چه اول ځان ښه پوه کړی او بیا مکلفیت لری چه حق او سمه لاره نورو ته په ګوته کړی. خلکو ته ووایی چه اوسنی حاکمیت په دی اتو کالو کي څه وکړل چه اوسی به یی وکړی. خلکو ته ووای چه د خلکودموکراتیک ګوند په خپل حاکمیت کي څه وکړل؟ خلکو ته ووای چه طالبانو او شورای نظار د خپل حاکمیت په وخت کي څه و کړل او یا اوس څه د کولو توان لری؟ داهغه رسالت دی چه باید اداء شی.
په ۲۱ سدی کي بشریت همدا امکانات لری.

ما د حزب اسلامی او طالبانو ته په دی خاطر د شرم نادرسته خبر ګڼلی وه چه په امتیاز د اصولو نه تیرېدل منی. درحالی چه دا خبر درسته نه وه او کومه معامله په منځ کي نه شته.
زه په دی باور وم او یم چه د حاکمیت مشروعیت نه د دین، نه د قوم، نه د ملیت او نه د سمت په اساس دی. په ۲۱ پیړی کي باید د حاکمیت مشروعیت د خلکو نه ترلاسه شی او د افغانستان خلک مسلمان دی خپل انتخاب لری.
په قومیت، دین ، سیکولاریزم او .... باندی تاکیدات هغه وخت زیاد کـیـږی چه حاکمیتونه په غیر طبیعی توګه د بــن دکنفرانسو، د کودتا او د دالرو او روبـلو په زور په ملت باندی تحمیل او بار شوی وی. نو بیا پورتنی اصولو باندی تاکید کوی ( مرغی له قفسه خوشی کړه او وزر وهل ورته زده کول په کار نه دی ).

د پورتنی او مشابه نظریاتو د نشر نه وروسته می د افغانستان د یو وتلی او تکړه سیاسی شخصیت او ژورنالیست له خوا د ښاغلی ګلبدین حکمتیار هغه مصاحبه ترلاسه کړه چه د بینوا د خبریال سره یی کړی وه.
په مصاحبه کي ښاغلی حکمتیار د افغانستان د اوسنی حکومت سره جوړه روغه کاملا رده کړی او دا یی د اوسنی حاکمیت افواهات او بی اساسه ګڼلی:
( <u>سوال اول:</u> در این اواخر آوازه های مذاکرات میان حزب اسلامی و دولت افغانستان به حد خویش رسیده اند، سخنگویان شما هم این مسئله را تائید نموده اند. آقایان هر یک داکتر غیرت بهیر، قریب الرحمن سعید و داود عابدی هم در همین راستا سرگرم فعالیت اند. این روند مذاکرات تا کدام اندازه مورد تائید شما است؟
<u>پاسخ:</u>
ما با حکومت کابل هیچگونه مذاکرات رسمی انجام نداده ایم، در اینباره تمام افواهات و آوازه ها حقیقت ندارند، این افواهات به مقصد خاصی از طرف حکومت کابل و نگهبانان و حامیان خارجی اش منتشر شده اند. هیچ مقام رسمی ما نیز اظهاراتی در مورد مذاکرات با حکومت کابل ننموده اند. حکومت کابل اختیار چنین مذاکرات را برای حل و فصل بحران ندارد، حکومتی که توانایی جلوگیری از بمبارد بالای شهرها و قریه ها را گرفته نمی تواند، قوای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

خارجی به تقاضا های مکرر شان جهت اطلاع قبلی در باره انجام عملیات و یا بسررساندن عملیات با اشتراک اردوی ملی، جلوگیری از کشته شدن اشخاص ملکی بیگناه و... اعتنایی نمی کنند، پس چنین حکومت بی قدرت و کمزور چگونه می تواند که جهت حل مسایل بسیار مهم کدام اختیار و یا توانایی داشته باشد؟! آیا از آنها توقع بسر رساندن چنین کاری، بیجا نیست؟.... گلبدین حکمتیار- رهبرحزب اسلامی.).

ددی مصاحبی په لوستلو را ته عجیب او غریب احساس پیدا شو. ولی مونږ په تیارو کی ساتل کیږو او ولی داسی شاخ داره درواغ ویل کیږی؟ داچی افغانستان کې د تعریف شوی مذاکری او مفاهمی لپاره لیا لار نه ده اواره شوی د تأسف خبر ده او واقعا دا حالت د جنګ او ورور وژنی لړی اوږدوی.
څنګه وشی چه ددی کار لپاره زمینه برابره شی؟
د چا ګناه ده او څوک به یی پیل کړی؟
په هرصورت لیږل شوی لیکنی او مطالبو زما ذهن روښانه کړی.

په دی باندی تفکر او تعمق او لاری لټول چه د بین الافغانی تفاهم او د قواعدو د توافق دلاری خنډونه او موانع څه دی او څنګه باید دا خنډونه او موانع له منځه لاړی شی.

زما په اند د دی تعریف شوی تفاهم او توافق عمده موانع او خنډونه لاندی دی:
۱/ تمام شواهد ښکاره کوی چه د افغانستان اوسنی حکومت د تفاهم او مصالحی نه دمقابل مسلح اپوزیسیون د یو تعداد امتیازاتو د ورکولو په مقابل کې د د تسلیمدو په مانا خلاصه کوی. هو دا کار په ځپل منځ د غنایم د تقسیم په عنوان د محترم محقق او محترم مارشال صاحب او د بعضو نورو سره کیدای شی اما نه د هرچا سره.
۲/ تمام شواهد ښکاره کوی چه د افغانستان اوسنی حکومت د تفاهم او مصالحی مانا داسی بیانوی چه راځه سلاح کیده او زما حاکمیت ومنه او زه تا ته څه نه وایم. زه فکر کوم اول خو یی امنیت نه شی ساتلی او دوم دا کار عملی جنبه نه لری. دا مصالحه او مفاهمه د محترم متوکل او محترم ضعیفی او .... به راتلو ختمه شوه. یو څه نور یی په پارلمان کی ناست دی او رای ورکوی. نور نو په داسی مصالحی و روغی جوړی باندی کار کول اضافی خبره ښکاری.
۳/ تمام شواهد ښکاره کوی چه د افغانستان اوسنی حکومت د تفاهم او مصالحی توانایی په دی نه لری چه د مخالفینو د سر تضمین د بین المللی ځواکونو له خطره نه شی کولای.
۴/ تمام شواهد ښکاره کوی چه د افغانستان اوسنی حکومت د تفاهم او مصالحی توان په دی نه لری چه د افغانستان د یو تعداد مسلح مخالفو قومانده د پاکستان ای اس ای او خارجی استخباراتو په لاس کی ده. نو په پکار ده چه ددی استخباراتی ادارو چاروه وشی. ددی حل په پاکستان کې د عملی اقداماتو لار ده. زما په اند او پوهه په پاکستان کې د میلیونهاو بی ګناه انسانانو مهاجرول، تیلویزیونی نمایشنامو غوندی سناریو ګانی جوړول ، بی هدفه په تیارو کې ډزی کول او په دی بهانه د امریکی او جهان څخه پاکستانی پوځیانو ته پیسی ترلاسه کول - د حل لار نه ده. عملی نتایج او هدفمنده کار ته ضرورت دی.
۵/ ښکاره ده چه دعربی او د بهرنی هیوادو ځواکونه چه د امریکی او اسراییلو په ضد، د کفر او الحاد په ضد د جګړی شعارونه پورته کړی - مصالحی او تفاهم ته به حاضر نه شی.
ددی لپاره چه ددوی بشری ، مادی او معنوی سرمایی تر یو حده وچی کړای شی:
- د فلسطین د مسألی حلول په کار دی.
- په دنیا کې د عدالت د تأمین لپاره له دوګونه مترو څخه لاس اخیستل په کار دی.
دا پروسه په امریکا کې د ښاغلی باراک اوباما په راتلو یو څه پیل شوی او وخت په کار دی او عملی اقداماتو ته ضرورت دی. شعارونه د کار د پیل لپاره ضرور دی - اما خلک عملی اقدامات غواړی.
۶/ تمام شواهد ښکاره کوی چه د افغانستان اوسنی حکومت د تفاهم او مصالحی نه ګټه پورته کول غواړی او صداقت نه کوی. د مصالحی او ښه تفاهمی او روغی جوړی لار په افغانستان کې د افغانستان خلکو ته د قدرت سپارلو لار ده.
عملی لار یی د افغانستان د شخړی افغانی کولو لار ده.
عملی لار یی په اوسنی انتخابات کی شفافیت ، صداقت، د قانون تطبیق او د افغانستان خلکو ته د قدرت ورکولو زمینی برابرولو لار ده.
د افغانستان خلک دا سیاسی درایت لری چه هغه برنامی او کړنلاری او هغه شخصیتونه انتخاب کړی چه د افغانستان د خلاصون او نجات ورکولو توان ولری.
شفافه انتخابات، د خلکو کنترول او اعتماد جلبول مصالحه او مفاهمه او ورور ولی او اعتماد راوستی شی.
تراوسه پوری شواهدو ښودلی ده او زه کم باوره یم چه دا اوسنی دولت دی په افغانستان کې دد اسی شفافو او عادلانه ټولټاکنو اراده ولری چه په هغه کې د افغانستان د خلکو د ارادی ریښتینی مظهر وګرځی.
که چیرته لازم قانونی اقدامات په موقع تر سره نه شی، خلک به انتخاباتو کې ګډون ونه کړی او دا انتخابات به مشروعیت ونه لری. په دی ډول به دا چانس او فرصت هم له لاسه ووځی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

د ایران د وروستیو انتخاباتی حوادثو نه هم پند اخیستل په کار دی.

۷/د بهرنیو ځواکونو موجودیت او د هغوی ناروا اعمال او ناتار د سوله او آمن په مقابل کی موانع ایجادوی. د اوسنی دولت د مخالفینو یوه عمده برخه د بهرنیو پوځیانو دناروا کړو وړو په نتیجه کي د نورمال ژوند نه لیری شوی افغانان تشکیلوی.
۸/ کاد الفقر ان یکون کفرا – ژر دی چه فقر کفر ته ورسیږی. نو دافغانستان خلکو ته د مصروفیت او عاید د برابرول لاری باید وسنجول شی.
۹/ بهرنی مرستی په مافیای روابطو له یوه لاسه راغلی او په بل لاس واپس شخصی بانکونو او حسابو ته انتقالی شوی. نو په اقتصادی مسایل کي لازم شفافیت او د قانون تطبیق په کار دی.
۱۰/ د افرادو او اشخاصو په ځای د قانون حاکمیت. داسی زیاد موارد شته چه اداری ارگانونه دعدلی او قضایی ارگانو په ځآی کار او اجراات کوی.
۱۱/ درست کادری سیاست، هغه کادری سیاسیت چه د کفایت او درایت او وطن دوستی اصل په کي مراعات شی نه د استخباراتی ادارو، کورنی، شخصی ، جیبی اړیکو او ګټو پربنسټ.
زه په دی باور یم چه افغانستان د ساړه جنګ د دوران په نسخو هم نشی آرامیدلی.
تمام شواهد په ډاګه ثابتوی چه په دی برخو کي د اوسنی حاکمیت اداره پاتی راغلی ده .

اما راشو د محترم ننګیال ستوری لیکنی ته چه دښاغلی ترابی په ځواب کي یی د ښاغلی حکمتیار صیب په دفاع لیکلی شوی او زما ددی لیکنی لمړنی هدف وه : (د ښاغلی حکمتیار له تعصب نه ډکي څرګندوني په ځواب کي! - ۱۷/۶/۲۰۰۹). ښاغلی ننګیال ستوری د خپلی مقالی په یوه برخه کي داسی لیکی:
**....** په اسلام کي انسانیت ته په ټوله مانا احترام شوي،..... په دغه ستر الهی اساسی قانون کي.... تعصب هم غندل شوی .... که څوک د خپل قوم صفت اوستاینه کوي او دخپل قوم اوژبي لپاره کارکوي دا یواسلامي کاردي ... زیاتو پیغمبرانوپه لومړي ځل خپل قوم ته خطاب کړی... له پورتني مقدمي نه مي موخه دا وه چي موږباید تعصب وپیژنو ښاغلي ترابي چي ګمان کیږي یومستعار نوم به وي دغه ادعا کړی چي ښاغلي حکمتیار په یو مقاله کي خپل تعصب په ډیرمهارت ښکاره کړی....حزب اسلامي هغه ګونددی چي ..... هیواديي دیواستعماري ځواک له منګولو وژغوری اوشوروي اتحادته یي ماتي ورکړه الخ....ښاغلي ترابي هڅه کړې چي د ښاغلي حکمتیار د دغي جملي پرمخالف مفهوم تکیا کړی .... د ښاغلي حکمتیار د خبرې مفهوم دا نه دی چې نورنو هیڅا جهاد نه دی کړی او نه یي د روسانو په ویستلو او ماتي کي برخه اخیستي څکه چي دا ډیره روښانه خبره ده د روسانو په ماتي کي ټولوتنظیمونو برخه اخیستي ... یوه مهمه خبره چي باید اشاره ورته وکړم هغه داده چي دکلیمي په مانا اصلي طالب چي د دې وطن بچي وو هغه یا شهید شوو اویاهم ترګونتنامو ورسیدل خو نور یي له کندزنه په طیاروکي وویستل شول. په توره بوره کي هم عربان یا د دوی په اصطلاح القاعده جنګیدل . او اوس چي د بهرنیو پروړاندې کوم طالبان جنګیږي هغه هم سپیڅلي اودقدرړ خلک دي خو هغه خلک چي دطالب ادعا کوي ښونځي سوځوي ، مامورین وژني ، ښوونکي وژني طالبانوته یي سخته صدمه اړولي خو ددې پرعکس حزب اسلامي په روانه جګړه کي تراوسه کوم مکتب نه دی سوځولی . پولیس یي نه دی وژلی ، ماموریي نه دی وژلی، ویره یي نه ده خپره کړې، څوک یي نه دي ذبح کړي، مثلی یي نه ده کړي ، خــوولي موږ په دې وروستیو کي ولیدل چي دطالبانودنفوذ لاندې سیمه هلمند کي د لغمان تنکي ځوانان چي ایران ته د مزدوری لپاره تلل ووژل شول اومړي یي هم پرې وپلورل شول ، دانسانانو نه په ژوندي غوړونه غوخ شول په داسي حال کي چي داسلام ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم علیه وسلم فرمایلي چي دکافرله مړي نه به هم پوزه اوغوړونه نه غوڅوي. داسلام په سترقانون کي دکافرمړي ته هم احترام شوی دی څکه چي انسان دی او اشرف المخلوقات دی.
په یوه غزوه کي د کافرو له لوري یو ه پیغله ونیول شول چي ددغي پیغلي پلار اونورنږدې خپلوان وژل شوي ووپه کوم لار ه کي چي دغه مړي پراته وو دغه پیغله یي هم پرې راوسته رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه ووته وویل داسي به مو نه کول خو اوس د طالبانو لخوا انسانان ذبحه کیږي بیا تري فلم ډکیږي او عام بازارته وړاندې کیږي دغه فلم د مقتول کورنی ته هم رسیږي هغه مورلري ، میرمن لري بچي لري خپل اوخپلوان لري چي ټول مسلمانان دي نو دغه داسلامی قانون سره سخت منافي دی خو تراوسه داثبوت څوک نشي وړاندې کولی چي حزب اسلامي دې دغسي کار کړی وي.
داخبره باید هم وکړم چي زه نه حزبی یم نه کوم ګوند کي یم ، او نه ددې هوډ لرم چي له چا سره یوځای شم په پای کي ترابي وروړته وایم چي دغسي پارونکي خبرې مه راسپړه چي خدای مه کړه بهرنیان به پرځای پاتي وي او ستا دغه وړوکي بڅرکي به دحزب اوطالب ترمنځ ډیرانسانان سوی وي . ننګیال ستوری)

درونو لوستونکو !


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

ډیره موده کیږی چه هڅه کوم خپل مستقل مطلب ولیکم او د چا په لیکنه څه ونه لیکم چه خدای ناخواسته د چا د خفګان موجب نشم. خو په دی لړ توانیږم. زه په دی باور یم چه محترم ننګیال ستوری به زماه سره هم نظر وی چه مونږ حق لټوو او د حق او ریښتیا لپاره لیکنی کوو او رسالت ادا کوو. په همدی منظور د محترم ن. ستوری لیکنه پیژنم او زه هم صرف په همدی مقصد لاندیدینی مطلب تاسی ته وړاندی کوم.

باید ووایم چه د محترم ننګیال ستوری ددی لیکنی نه مو زیاته ګټه واخیسته اما دویلو وړ ګڼم چه:

۱/ د تعصب تعریف باید وشی. تعصب منفی کلیمه ده او تعصب نه منو. خپل قوم ته خدمت چه د بل قوم د توهین او تحقیر په کې نه وی کوم - د تعصب خبر نه ده. همغسی چه تاسی ورته هم توضیحه ورکړی، دا کار ثواب هم لری.

۲/ د وطن په آزادی کی د ټولو تنظیمونو کار نه بلکی د افغانستان د خـلـکـو کار وه. د خلکو داهلی ځلی په تنظیمونو ختمول و د افغانستان د مجاهد ولس رول ضعیف ښودل خطاء کار او بی انصافی ده.

۳/ په دی باور لرو چه د اسلام دین د دنیا او ټولنی ډیر رنځونه او مشکلات په داسی لوړه او انسانی توګه حلوی چه نظیر یی نه شته. چاچه د توحید کلیمه وویلی مسلمان ورور دی. عربی او عجمی، تور او سپین ترمنځ فرق نشته مقرب ترین د تاسو الله پاک ته متقی ترین د تاسو دی. اسلامی اخوت هغه اخوت دی چه د دنیا ستر ستر قوتونه د هغه په ماتولو مصروف دی. نوله دی کبله مونږ باور لرو چه ریښتینی او ښه مسلمان تعصب نشی لرلای. خپل قریب، خپل کلی، خپلی منطقی او خپل وطن او انسانیت ته خدمت کول یو اسلامی او انسانی اصل دی او الله تعالی داسی مخلص خادم ته انشاء الله چه اجر ورکوی.

فاعتبروا یا اولی الابصار


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.